# درناوی

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

دریم ټولګی، لومړی سمستر، دویمه سویه



د لوستلو لپاره ازمايښتی مرستندوی کتاب

پښتو

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو
د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# درناوی

## د دریم ټولګي اتمې اونۍ لپاره

پښتو
مرکز، ننګرهار، افغانستان

د لوستلو دا مرستندوی کتاب د "افغان ماشومان یې لولي" پروژې په تخنیکي مرسته تألیف شوی دی۰

لیکوال: همایون رشیدي

اېډېټور: تکامل شمس

انځورګر: جواد طاهري

د تصحیح کمېټه

---

اسلامي او کلتوري: مؤلف شهیدالله عزیزي

ژبنی: د سرمؤلف مرستیال محمدعزیز حسین خېل

بسم الله الرحمن الرحیم



میرویس د ښاپېرۍ ورور دی.
ښاپېرۍ د خپل ورور درناوی کوي.
خبرې يې مني.
په درسونو کې ورسره مرسته کوي.

یوه ورځ ښاپېرۍ له میرویس څخه رنګې وغوښتلې.

میرویس په غوسه ورته وویل:

نه یې درکوم!

ځانته رنګې واخله!



مور يې د میرویس خبرې واورېدې.
میرویس ته يې وویل:
ګوره بچیه!
ښاپېرۍ ستا مشره خور ده.

هغه په درسونو کې درسره مرسته کوي.
هغه ستا درناوی کوي.
خبرې دې مني.
نو باید ته یې هم درناوی وکړې.



ګوره زويه!

تاسې بايد د يو بل درناوی وکړئ.

د يو بل خبرې ومنئ.

يو بل ته درناوی، مينه زياتوي.

میرویس غلی و.
د مور په خبرو یې فکر کاوه.
په خپل کار پښېمانه و.
میرویس وویل:
مورې! ښېښنه غواړم. ما ښه و نه کړل.
خور مې خپه کړه.
مور یې وویل:
آفرین چې پوه شوې! باید ښېښنه له
ښاپېرۍ څخه وغواړې.
هغه هم باید تا وبښي.



میرویس ښا پېرۍ ته وکتل.
ویې ویل:
خورې! ښنه غواړم.
بیا به داسې کار نه کوم.

ښاپېرۍ موسکۍ شوه.
ويې ويل:
پروا نه کوي.
ښه شو چې ته پوه شوې.
میرویس خپلې رنګې ښاپېرۍ ته
ورکړې.
ويې ويل: واخله خورې!
مور يې د هغه پر سر لاس راتېر کړ.
ويې ويل: آفرين زويه!
تل د يو بل درناوی کوئ.

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. پېرودل او پلورل يې په کلکه منع دي. له سرغړوونکو سره به قانوني چلند وشي.